AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۳/۱۳

# د افغانستان بایوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اوه لسمه برخه)

### عبدالسلام عظيمي

د داؤود د جمهوريت پر مهال د کابل پوهنتون رئیس. په ۱۹۷۲ز کال کې د اسلامي شرعياتو د پوهنځي رئیس. د ۱۹۷۹ز کال د سپمتبر په ۲۴ نېټې د عدليې د وزارت د تقنين د رياست رئیس. د کابل پوهنتون مرستيال رئیس.د ۱۹۸۲ز کال په سپمتبر کې جلا وطن سوی دئ.

### غلام جيلاني عظيمي

د خوشدل خان زوی په ۱۸۹۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. له ۱۶ کلنی را وروسته د حکومت په بېلابېلو رياستونو کې رسمي مأمور. د «عالي شورى» غړی. د ادبي ټولنې له لومړنيو غړو څخه دئ چې وروسته د اداري چارو مرستيال سو. په ۱۹۴۱ز کال کې د دولتي مطبوعاتو د رياست مرستيال. شاعر او ليکوال. په ۱۹۵۵ز کال کې وفات سو.

### جنرال غلام سخي عظيمي

په ۱۹۸۳ز کال کې د سويل لويديځ زون آمر.

### جنرال محمد نبي عظيمي

د انقلابي شورى غړی. په ۱۹۸۴ز کال کې د دفاع د وزارت لومړی مرستيال وزير. د ۱۹۸۳ز کال د مارچ په میاشت کې د مجاهدينو په وسيلې ټپي سو. په ۱۹۸۴ز کال کې ددفاع وزير چې د عبدالقادر ځای ناستی سو. په ۱۹۸۶ز کال کې ددفاع د وزارت لومړی مرستيال وزير.

### قاري محمد عظيم عظيمي

د قاضي  ميرزا محمد اسمٰعيل زوی په ۱۹۰۲ز کال کې په سرپل کې زېږېدلی دئ. خپلې دوديزې او لومړنۍ زده کړې ئـې په سرپل کې تر لاسه کړې. په ۱۲ کلنۍ کې د قرآن حافظ سو. مشهور تنبور غږوونکی او شاعر. له ۱۹۳۴ تر ۱۹۴۲ز کال پورې د سرپل د ښوونځي سرښوونکی. له ۱۹۴۳ تر ۱۹۴۵ز کال پورې د ولسي جرګې غړی او د سرخ پارسا حاکم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## عبدالحی عزیز

د عبدالحسین عزیز زوی په ۱۹۱۴ز کال کي زېږېدلی دئ. په قوم محمد زی دئ. په ۱۹۳۰ز کال کي د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۳۱ز کال کي په ایتالیا کي د «شاتوبریان» [1] په لیسي کي ئـي درس لوستی دئ، په ۱۹۳۲ز کال کي یوې فرانسوی لیسي ته تللی دئ؛ په ۱۹۳۵ز کال کي د «گرن ویل» [2] په پوهنتون کي، په ۱۹۳۷ز کال کي د «انگلستان د لندن» [3] په پوهنتون کي. په ۱۹۳۸ز کال کي د «ستراسبورگ» [4] په پوهنتون کي. په ۱۹۳۹ز کال کي په افغان ملي بانک کي ئـي یو مقام درلود. په ۱۹۴۰ز کال کي د ساینس د پوهنځي پوهیالی. په ۱۹۴۱ز کال کي د افغان ملي بانک سکرتر. په ۱۹۴۴ز کال کي د حقوقو د پوهنځي رئـیس. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د اقتصاد د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د صدراعظم سلاکار. د وطن د خپروني مرستیال محرر. د شاه محمود په حکومت کي له ۱۹۵۲تر ۱۹۵۳ز کال پورې زنداني سو. په ۱۹۵۴ز کال کي د کانونو د وزارت سلاکار. په ۱۹۵۷ز کال کي ئـي له سکندر میرزا سره د خبرو لپاره، کراچۍ ته د صدراعظم داؤود د سفیر ملتیا وکړه. په ۱۹۵۷ز کال کي د افغان هوایي چلند رئـیس. په ۱۹۵۷ز کال کي د پلان د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د افغانستان بانک سرپرست رئـیس. په ۱۹۶۳ز کال کي د پلان وزیر. د مشروطه غوښتونکو په غورځنگ کي ئـي فعاله ونډه اخیستي ده. د والي علي احمد «بارکزي» له لور سره ئـي واده کړی دئ. په ۱۹۶۳ز کال کي په پاریس کي وفات سوی دئ.

## عبدالحمید عزیز

د عبدالعزیز خان زوی په ۱۸۹۸ز کال کي په فارس کي زېږېدلی دئ؛ د عبدالحسین خان ورور دئ. د حبیبیې په لیسي کي ئـي زده کړې کړي دي. په ۱۹۲۷ز کال کي ئـي خپل لیسانس په سیاسي علومو کي له پاریس څخه تر لاسه کړ. وروسته د باندنیو چارو په وزارت کي مقرر سو. له ۱۹۳۱ تر ۱۹۳۴ز کال پورې د روم په سفارت کي سکرتر. په ۱۹۳۴ز کال کي په مسکو کي د سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۳۶ز کال کي د باندنیو چارو د وزارت د پروتوکول د څانگي غړی. په ۱۹۳۷ز کال کي د باندنیو چارو د وزارت د پروتوکول د څانگي مشر. په ۱۹۳۹ز کال کي په ژنوا کي د «ملتونو په لیگ/ جامعهٔ ملل» [5] کي د افغانستان استازی. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت لومړی مرستیال وزیر. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۰ز کال پورې په ملگرو ملتونو کي د افغانستان د دائـمي پلاوي غړی. په ۱۹۵۰ز کال کي په واشنگټن کي مختار وزیر او شارژدافیر. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۵ز کال پورې ملگرو ملتونو ته د افغانستان پلاوی. په ۱۹۵۸ز کال کي د باندنیو چارو د وزارت سلاکار. په ۱۹۶۱ز کال کي د اندونیزیا سفیر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې سناتور او د باندنیو اړیکو د کمېټي رئـیس. د اعلیحضرت نادر خان له یوې خورزې سره ئـي واده کړی دئ او دوه لوڼي لري. په انگلیسي،

1 - Chateaubriand High School in Italy
2 - University of Grunville
3 - University of London, England
4 - University of Strasburg
5 - League of Nations


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

فرانسوي، ایتالوي، روسي اوجرمني ژبو خبرې کوي. د ۱۹۷۸ز کال له مې تر جون پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني وو.اوس په سویټزرلند کې ژوند کوي.

## عبدالحسین عزیز

د سردار عبدالعزیز زوی چې محمدزی دئ په ۱۸۹۶ز کال کې په فارس کې زیږیدلی دئ؛ په فارس او د حبیبیې په لیسې کې ئې زده کړې کړي دي. په ۱۹۲۰ز کال کې له خپل پلار سره د تهران په سفر کې مل وو. د ۱۹۲۴ز کال د جنورۍ په میاشت کې د افغانستان د باندنیو چارو په وزارت کې د قنسلي چارو او د پروتوکول د چارو د مسؤول مرستیال وو. د ۱۹۲۵ز کال د آگست په میاشت کې برطرفه سو. په ۱۹۲۶ز کال کې په کابل کې د افغان ترانسپورت کمپنۍ مدیر وو. په ۱۹۲۸ز کال په ډیلي کې د جنرال قنسل په توگه وټاکل سو. د نامطلوب عنصر په توگه اعلان سو. په ۱۹۲۹ز کال کې په کراچۍ په سوداگرۍ بوخت وو. د ۱۹۲۹ز کال په نوامبر کې کابل ته راستون سو. له ۱۹۳۰تر ۱۹۳۲ز کال پورې په روم کې مختار وزیر. په ۱۹۳۳ز کال کې د ژنوا د بې وسلو کولو په کنفرانس کې افغان پلاوی. له ۱۹۳۳ تر ۱۹۳۸ز کال پورې مسکو ته د سفیر په توگه تبدیل سو. . په ۱۹۳۸ز کال کې د ټولگټو/ فواید عامې وزیر. په ۱۹۴۰ز کال کې د مخابراتو وزیر. په ۱۹۴۳ز کال کې واشنگټن کې لومړنی افغان مختار وزیر. په ۱۹۴۶ز کال کې په ملگرو ملتونو کې د افغانستان لومړنی استازی. په ۱۹۵۰ز کال کې د معارف وزیر. په ۱۹۵۴ز کال کې په ډهلي کې افغان سفیر. په ۱۹۶۰ز کال کې وفات سو. څلور زامن ئې درلودل : عبدالحی عزیز. ډاکټر عبدالغفار عزیز، عبدالقادر عزیز او محمد ایوب عزیز.

## عبدالصمد عزیز

ماهر مجسمه ساز، نقاش او طراح یا ډیزاینر. د ښکلو هنرونو د انستیتیوت استاد. د داؤود پر مهال د جنگلک د فابریکې رئیس. د زړۀ د حملې له کبله وفات سو.

## عزیزه عزیز

د عامې روغتیا د وزارت د نرسنگ د ریاست رئیسه. د KOAW رئیسه.

## محمد ایوب عزیز

محمدزی دئ او په ۱۹۲۰ز کال کې زیږیدلی دئ د ده د پلان د پخواني وزیر عبدالحی عزیز او د عبدالغفار عزیز ورور دی ؛ عبدالغفار عزیز د افغان کورنیو د لارښودې ټولنې یا انجمن رهنمای خانوادۀ افغان پخوانی سکرتر جنرال وو.) محمد ایوب عزیز د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۰ز کال کې د ملي بانک سکرتر. )له ۱۹۴۳ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د امریکا متحده ایالاتو د لومړي سفیر( د خپل پلار یاور. په ۱۹۴۱ز کال کې د لومړی سیاسي څانگې سکرتر او له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۲ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت غړی. په ۱۹۴۶ز کال کې د ملگرو ملتونو او نړۍ والو اړیکو رئیس. په ۱۹۴۷ز کال کې د پروتوکول مرستیال مشر. په ۱۹۵۲ز کال کې د پراگ د سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۵۴ز کال کې د قاهرې د سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۵۶ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د آرشیف د ریاست مرستیال. په ۱۹۵۷ز کال کې د پروتوکول د مشر مرستیال او د قنسلي چارو رئیس. په ۱۹۵۸ز کال کې په نوي ډیلي کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۶۱ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د ویزې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

څانګي رئيس. په ۱۹۶۳ز کال کي په کويټي کي افغان قنسل. په ۱۹۷۲ز کال کي د کورنيو چارو په وزارت کي د قبائيلو د چارو د رياست رئيس. د بدخشان والي او د کابيني غړی. په ۱۹۷۳ز کال د کندهار والي. د ۱۹۷۸ز کال د مي له مياشتي د ۱۹۸۰ز کال د جنوری تر مياشتي پوري د پلچرخي په زندان کي زنداني. وادهٔ ئـي کړی او څلور بچيان لري. مورنی ژبه ئـي دري ده او په انګليسي او فرانسوي هم خبري کوي. اوس د امريکا په متحده اياالاتو کي ژوند کوي.

## محمد ظاهر عزيز

په ۱۹۳۷ز کال کي د غزني په «رومک»[6] کي زېږېدلی دئ او د شيخ حسين له قبيلي څخه دئ. په ۱۹۵۱ز کال کي ئـي په رومک کي خپلي لومړنی زده کړي بشپړي کړي. په ۱۹۵۸ز کال کي له دارالمعلمينو څخه فارغ سو؛ په ۱۹۶۳ز کال کي د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د تأريخ او جغرافيي له ديپارتمنت څخه د ليسانس په درجي فارغ سو او په ۱۹۶۸ز کال کي ئـي خپله ماستري د امريکا د متحده اياالاتو د کولمبيا له پوهنتون څخه په ښووني او روزني کي تر لاسه کړه. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پوري د کابل په يوهٔ لومړني ښوونځي کي ښوونکی وو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پوري د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د انستيتيوت غړی. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۴ز کال پوري د يونسکو لپاره د ملي کميسيون سکرتر جنرال او د معارف په وزارت کي د يونسکو د چارو په څانګي کي دايرکتر جنرال. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۵ز کال پوري په پاريس کي، د يونسکو، پروګرام - سپيشليست يا متخصص. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۷ز کال پوري د ايشيا پاسيفيک د څانګي رابط افسر. په ۱۹۷۷ز کال کي د ملي کميسيون د څانګي پروګرام- متخصص. د يو شمېر آثارو مؤلف. د افغانستان او يونسکو په استازيتوب ئـي يو شمېر کنفرانسونو کي ګډون کړی دئ. وادهٔ ئـي کړی دئ او د مسعود او اقبال پلار دئ.

## نور بيا

## عبدالقيوم عزيزي

په ۱۹۱۴ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[6] - Romak


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ